# پښتو شاعرۍ کښې د عمراني افکارو روايت

# The tradition of sociological thoughts in Pashto Poetry

**Khalil ur Rehman Khalil** *

**ABSTRACT:**

Literary work created in a particular society is highly influenced by the social facts of that society that's why norms, customs, values, ethics and other social and cultural factors of a society are reflected in its literature. Therefore literature is called the mirror of society. Same is the case of Pashto poetry. In each and every period of Pashto poetry we find social facts and thoughts related to social condition of Pashtun society. Amir karor, considered to be the first Pashto poet, has shown a real picture of society in his poems. As such we can trace back the tradition of sociological concepts to the very early period of Pashto poetry. After this, during every period of Pashto poetry, poets paid attention to the social conditions. In early period we can find social thoughts in the poetry of Akbar Zimedawari, Arzani, etc. In classical golden period almost all the poets reflected the society. The poetry of Khushal khankhattak is a great example in this regard. On the other hand Rehman baba was although a *'sufi,* poet but in several poems he also portrayed the living condition of common people. This tradition is continued up till now in Pashto poetry. Apart from this Pashto folk poetry is also co-related with Pashtun society. These all facts have been discussed and tradition and evolution of social thoughts in classical Pashto poetry has been analyzed in this article.

Keywords: Pashto Poetry, Society. Social facts, Pashto folk ,Tappa, ancient Poetry Amir Karor, Akber Zimedawari ,Classical Pashto Poetry, Khushal Khan Khattak,Rehman Baba, Hussin Malikpuri, Hamid Bba, Pukhtunwali

* Assistant Professor, Govt. Post Graduate College Mansehra

د نقادانو یوه ډله په دې خبره زور ورکوي چې شاعري د شاعر د ذات پورې اړه لري او شاعر په شاعرۍ کښې د خپلو ذاتي احساساتو ، جذباتو ، ارزوګانو، اظهار کوي، او د شاعر د دې ذاتي احساساتو، جذباتو او تجرباتو څۀ عمراني ارزښت او قدر او قیمت نۀ وي- معاشرې او اولس ته د دۀ د شاعرۍ نه څۀ خاص فائده نۀ رسي او دا رنګې شاعري خو ذاتي احساساتو ، جذباتو او تجرباتو د پاره د څۀ سکون، ارام ذریعه کېدے شي خو د معاشرې اوسېدونکو ته ترې هېڅ فائده نۀ رسي- په دې خبره کښې څۀ قدرې حقیقت موجود هم دے خو مکمله توګه دغه رائې صحیح نه ده - هغه داسې چې که شاعر هر څو هم د خپل ذات او وجود په حصار کښې ګېر وي او هغه خپل احساسات او جذبات په شعري رنګ کښې لیکي ، خو په دنیا کښې شاید چې داسې شاعر وي چې د هغۀ شاعري سل په سله د هغۀ د ذات په حصار کښې ګېره وي او د خپل چاپېرچل، خپلې معاشرې او ټولنې او د خپل اولس او قوم نه بېخي بېل وي او په خپلې شاعرۍ کښې ئې د خپل اولس او د خپلې معاشرې د کنډو کړمو ذکر نۀ وي کړے- که هر څو هم هغۀ په شاعرۍ‌کښې د خپل ذات او وجود احساسات وړاندې کوي خو بیا هم هر شاعر د خپلې معاشرې ، د خپل اولس سره د معاشرې د یو وګړي په طور تعلق او رابطه لري او دغه سماجي تعلق هغه د خپلې معاشرې سره ترې چې یو نۀ شلېدونکے او نۀ ختمېدونکے تړون دے- شاعر به خامخا په څۀ نه څۀ رنګ کښې د خپل اولس او معاشرې خبره کوي- او هسې هم شاعر د شاعر جوړېدو نه اول د معاشرې د یو فرد په حېثیت په مخه راځي- شاعر چې څۀ زده کوي، څۀ اخذ کوي، هغه د تصوراتو په صورت کښې وي او که د تخیلا تو په شکل کښې د تشبیه او استعارې یا نورو شعري صفاتو په صورت کښې وي خو مصدر او ماخذ ئې هم خپله معاشره وي- شاعر څۀ خلائي مخلوق نۀ دے چې په خلا کښې ژوند کوي او د دې دنیا او معاشرې سره ئې څۀ تعلق او تړون هډو د سره نۀ وي-

د شاعرۍ د ټولو نه لویه ذریعه او کالے ژبه ده او ژبه هر څوک د خپل کوره، د خپل چم ګاونډه او د همزولواو مشرانو نه زده کوي- ګویا شاعر ته د شاعرۍ د وئیلو اولنۍ او بنیادي ذریعه د معاشرې او اولس سره تړلے شوې ده- دا بیا څنګه کېدے شي چې هغه د معاشرې نه تر لاسه شوې ژبې په ذریعه د خپلې معاشرې ترجماني اونۀ کړي- د خپلې معاشرې خبره اونۀ کړي - که یو شاعر یوازې د عشق او محبت ذکر هم کوي خو هم د دغه معاشرې دننه خپل وجود لري- که د یو فرد ذاتي احساسات ، جذبات او تصورات وي خو هغه هم په معاشره او اولس اثرانداز کېږي او د معاشرې د اولس سره تړلې وي-

کله چې عمراني فکر او سوچ ته باقاعده طور باندې د یوې علمي نظرئې په طور وده ورکړلے شوه او بیا دغه علمي نظریه د مختلفو پوهانو اومفکرینو د نظریاتو په رڼا کښې په مضبوط بنیاد کیخودے شوه او بیا رو رو دغه عمراني علم په خورېدو شو نو ادب تخلیق کوونکے تخلیق کار او د هغۀ سماج او معاشره دواړه بېل بېل پاتې نۀ شو- د شاعرۍ په حقله چې کوم سوالونه د شاعر د ذات نه شروع کېږي هغه په اخر کښې هغه ټول سوالونه د معاشرې په فراخه او ژورې کتنې باندې خوارۀ شي- ځکه چې هر شاعر یو انسان وي او د هغۀ مخاطب او اورېدونکي هم انسانان وي- شاعر چې په کومه ژبه کښې خپله شاعري کوي هغه د انسانانو د یو معاشرتي عمل فطري پېداوار وي- [۱]

شاعري د ژوند د هر مېدان سره که هغه اخلا قیات وي، معاشیات وي، تهذیب او تمدن وي، تاریخ وي یا د معاشرې او اولس سره تړلے نور څۀ میدان وي که سیاسیات او عمرانیات وي- شاعري او ادب ترې بیلېدے نه شي- ولې چې د دې هرې شعبې عکس په شعر او ادب کښې خپل وجود لري- په دې حقله د اردو ژبې نقاد ډاکټر غلام حسین ذوالفقار لیکي:

" شعر وادب کو معاشرتی زندگی میں اہم مقام حاصل ہے۔ کسی ملک اور قوم کی اجتماعی زندگی کے مختلف اداروں اور شعبوں کا عکس اس کے ادبیات میں جھلکتا ہے۔ سیاسی اور معاشرتی اداروں کی کارکردگی کے جو عمومی نتائج ظہور میں آتے ہیں، ان کا جائزہ بالآخر مفکر، ادیب اور شاعر ہی لیتے ہیں۔ ان ذکی الحس افراد کی ذات میں معاشرہ اپنے آپ کو پہچانتا اور اپنا محاسبہ کرتا ہے۔ یہ لوگ ان اقدار و روایات کے پاسبان ہوتے ہیں جو کسی معاشرے کی روح رواں اور فکر و عمل کی مظہر ہوتی ہیں"۔[۲]

ترجمه: شعر او ادب ته په معاشرتي ژوند کښې مهم مقام حاصل دے- د يو ملک او قوم د اجتماعي ژوند د مختلفو ادارو او شعبو عکس د هغهٔ په ادب کښې په نظر راځي- د سياسي او معاشرتي ادارو د کار چې کومې عمومي نتيجې په مخه راځي، د هغې جائزه آخر مفکر، اديب او شاعر اخلي- او د دې حساسو خلقو په ذات کښې معاشره خپل ذات پيژني او خپله محاسبه کوي- دا خلق د هغه اقدارو او رواياتو پاسبانان وي ، کوم چې د يوې معاشرې د روح اود هغې فکر او عمل مظهر وي-

ادب او معاشره چې د يو بل سره تړلې دي او د يو بل سره يو نهٔ بيليدونکے تعلق لري، د دې نه دا خبره څرګنده شوله چې د ادب او عمرانياتو د ربط او ضبط، د ادب او د عمرانياتو يو بل سره شريکه رشته معاشره ده- د عمرانياتو موضوع معاشره ده او ادب هم د معاشرې پيداوار او تخليق دے- که په دواړو علومو يعني ادب او عمرانياتو کښې څهٔ فرق او بيلتون دے هغه د طريقه کار دے- عمرانيات يو سائنسي طريق کار لري او د ادب خپل يو فني نظام دے- عمرانيات د يو انسان معاشرتي بصيرت او پوهې کښې د اضافې

سبب دے او عمرانیات دا ښائي چې د یوې معاشرې وجود کښې کوم کوم اجزا ضروري دي یا یوه معاشره څنګه جوړیږي، مخ په ترقۍ او مخ په بره څنګه ځي- کومې کومې ادارې او تنظیمونه د معاشرې په ترقۍ او کامرانۍ کښې خپل خپل کردار لوبوي- او د یوې معاشرې په ورانې او فساد کښې کوم کوم عوامل خپل کردار ادا کوي- عمرانیاتو اوس د معاشرې د پاره د یو مکمل علمي څانګې په جوړ په تهوله دنیا کښې خپل وجود قائم کړے دے-

د دنیا د هرې ژبې په شاعرۍ کښې د عمراني افکارو روایت وجود لري- پښتو ژبه په دې حواله زیاته خوش قسمته ده چې ډېر د ابتدا نه د دې په شعر او ادب کښې عمراني عناصر خپل وجود لري- په نولسمه اوشلمه صدۍ کښې چې کله عمراني شعور او فکر زیاتې غزونې اوکړې ،د هغې نه ډېر وړاندې د امیر کروړ رجزیه نظم کښې د عمراني افکارو روایت خپل وجود لري- او که د پښتو ټپې قدامت په نظر کښې اوساتلے شي بیا خبره نوره هم په وړاندې ځي- ځکه چې ټپه چې د پښتو د شعري ادب تر ټولو زوړ صنف دے اوپه دې کښې عمراني فکر او روایت ښهٔ زیات موندلے کیږي-

پښتو ټپه د ژوند د هر اړخ ترجماني کوي هغه که مینه محبت وي، که سیاست او مذهب ، معیشت وي، که تاریخ او کلتور وي یا د معاشرې سره تړلي نور عمراني اړخونه وي- خو په دې کښې د دنیا جهان موضوعات داسې زړهٔ راښکونکي انداز کښې په ځاے شوي دي چې د روانۍ، سلاست، فصاحت او بلاغت نادرې نمونې په کښې موندے شي- پښتو ټپې د پښتنو د ژوند، ژواک او ماحول سره تړلې هره موضوع په خپله فراخه جولۍ کښې د مودو راسې خوندي کړے او ژوندۍ ساتلے ده- داسې کومه موضوع به وي چې د دې اولسي صنف په جولۍ کښې به وجود نهٔ لري- سلمٰی شاهین د پښتو ټپې د دې اړخ په حقله لیکي:

"د پښتو ټپې میدان دومره وسیع او متنوع دے چې د پښتون اولس د ژوند ژواک او د ماحول سره تړلي واقعات ، واردات ، رسومات، رواجونه او توهمات ټول په کښې ځاے کړې شوي دي- په هره موضوع او هر عنوان په کښې ګڼې ټپې موندے کېږي-"[۳]

اوس چې داسې موضوع او مضمون نشته چې د پښتو ټپه کښې موجود نه وي- بیا خو دا حقیقت دے چې په دې اولسي صنف کښې عمراني سوچ، فکر او تصورات هم خپل وجود د پخوا نه لري- او دا سلسله د هغه وخت نه راروانه ده چې کله لا عمراني فکر ته په شعر و ادب کښې باضابطه ځاے نۀ وۀ ورکړے شوے- که مونږ د پښتو ادب قدامت د امیر کروړ د نظم نه شمار کړو، بیا خو ټپه د دې نه هم زر کاله یا څۀ زیاته پخوانۍ معلومیږي-[۴]

خو دلته باید چې دا خبره هم واضحه کړلے شي چې دغه عمراني فکر د ټپې نه علاوه په نورو اولسي اصنافو کښې هم په نظر راځي لکه لوبه، بدله، نیمکۍ، بګتۍ او چاربېته- بیا په دې نورو اصنافو کښې چاربېته کښې عمراني شعور د ټپې نه پس زیات موندلے شي - دلته مونږ د پښتو یو څو ټپې وړاندې کوؤ چې عمراني فکر ترې څرګند شي لکه:

زما ابۍ دادا ته وایه

خوشحاله نۀ یم له ناکامه ناسته یمه[۵]

زړونه هغه دي کلي بیل شو

اوس به دیدن په غم ښادۍ سره کوونه[۶]

په اولنۍ ټپه کښې یوه پښتنه ښځه د خپل خاوند په کور کښې چې د ناکام د ناستې کوم ذکر کوي هغه که هر څو هم ذکر شوے نۀ دے خو بیا هم د هغې د درداو تکلیف احساس ترې په ډېر ښۀ جوړ څرکند یږي، چې هغه په

کوم اور کښېږ په ژوند تیرَولو مجبوره ده ـ دغه مجبوري څهٔ دي ؟ دا هاغه معاشرتي اقدار او اعیار دي چې د هغې د ماتولو تصور په دې معاشره کښې څوک نهٔ شي کولے لکه ښځه چې کوم کور ته وادهٔ شي د هغې کور نه ئې بیا کټ اوځي په ژوند د هغې کوره د وتلو هغه سوچ هم نهٔ شي کولے ځکه چې مور او پلار نه شي شرمولولے ـ ځکه خو هر قسم ناکام کوي خپل وخت تېروي خو خپله پښتو باندې حرف نهٔ راولي ـ په دویمه ټپه کښې وائي چې که هر څو هم اوس زمونږ کلي د یو بل نه بیل دي د یو بل نه بیل او جدا اوسو، او تنگ راتگ مشکل او گران شوے دے خو څه غم ښادي خو شته کنه، دا خو د ژوند سره تړلي څیزونه دي خلاصے ترې نشته که چېرته غم او ښادي زمونږ په کلو پېښه اوکړي بیا به زمونږ دیدنونه هم په کښې اوشي- اوس دلته دا خبره د غور قابل ده چې د کلي د یو بل نه د بېلېدو ذکر شوے دے، خو بیا هم د بېلو بېلو کلو خلق اولس یو بل سره معاشرتي تړون کښې گنډلي شوي دي- غم ښادي معاشرتي اقدار (Norms) دي دا خو پرېښودل نشته-

د پښتنو ټول عمر سفر په غاړه دے- خپل کور کلے او وطن ترې پاتې شي- او د ژوند لویه حصه په پردېس کښې په تېرولو پخوا هم مجبور وو او نن هم مجبور دي- ولې چې د ژوند د ضرورتونو پوره کولو د پاره د مال دولت ضرورت وي او دغه مال او دولت په آسانه په خپل وطن کښې نشي پیدا کېدے- ضروري ده چې سفر به ورېسې کول وي- پښتنه ښځه په دغه مجبورو پوهه ده ، ادراک دے ورته ځکه خو خپل محبوب یا خاوند ته د سفر د تلو خبره کوي چې خفه کېږه مه زهٔ هم پښتنه یم ستا په پت به ناسته یم ، تهٔ ورځه چې د ژوند د پاره ، د ژوندي پاتې کېدو د پاره سفر د ظفر وسیله ده ـ پت د پښتنې معاشرې د سماجي تړون یو مهم صفت دے او دغه پت پښتنې پېغلې ډېر په نره پالي-

په سفر ځه مه خفه کېږه

زه پښتنه به ستا په پت کښې ناسته یمه[۷]

اوس که مونږ د اولسي ادب نه پس د پښتو ژبې نور شعري تاریخ ته نظر اوکړو په هغې کښې مونږ ته د عمراني شعور پوهه او ادراک له پخوا نه راروان ښکاري-اکبر زمینداروي د پښتو اولنے غزل ګو ګڼلے شي- د عبدالحئ حبیبي د وینا مطابق د اکبر زمینداوري د شعري آثارو یو څو پاڼې موندلے شوي دي- د اکبر زمینداوري د ځنې اشعارو نه دا معلومیږي چې هغه د ګوډ تیمور معاصر دے - ګوډ تیمور (۷۷۱هـ ـــ۸۰۷هـ) پورې سلطنت کړے دے-۸

که هر څوهم د اکبر زمینداوري شعري اثار د وخت د انقلاب د لاسه ډېر کم موندے شوي دي خو د هغه د اشعارو نه دا معلومیږي چې د زمینداروي د زمانې تر رسیدو پورې د پښتو شعري ادب کم نه کم د دوؤ صدو سفر کړے وؤ- اکبر زمینداروي په خپل یو غزل کښې د مغلو د ظلم زور ذکر داسې کوي:

د مغلو تیمور هسې په اور وسوم

چې به هیر په دې ماتم زمینداورکړم[۹]

د دې شعر نه څرګنده شوه چې د پښتو اولنے غزل ګو اکبر زمینداور په خپل غزل کښې د خپل قام ، اولس، د درد او تکلیف نه سترګې ندي پټې کړي او په خپل غزل کښې د مغلو له اړخه راجوړلے شوې معاشرتي او سماجي ستونزوته پام او فکر وو-

ارزاني خویشکي( ۹۲۹هـ ---۱۰۲۸ هـ) چې د پښتو ژبې او ادب په تاریخ کښې لوئې مقام لري او د پښتو ژبې وړومبے صاحب دیوان شاعر دے چې دیوان ئې د څلور سوو کالو نه زیات عمر لري- ډاکټر پرویز مهجور د ارزاني د شاعرۍ دا اوصاف په دې ډول بیانوي:

" د ارزاني دا شاعري اګر چې د روښاني مسلک د مذهبي او تصوفي تعلیماتو تبلیغ او دعوت دے خو د خپل وخت

په مناسبت د هغهٔ په شاعرۍ کښې داسې آثار ډېر په واضحه توګه ښکاري چې هغه يو زبردست قومي او سياسي شعور لرلو ، د يو مکمل تصوفي دانشور باوجود هم د هغهٔ په شاعرۍ کښې د دا قسمه قومي او لساني شعور موجودګي د هغه د يو زبردست سياسي او قومي نظر غمازي کوي- ارزاني په خپله شاعرۍ کښې بار بار د پښتو د يوې علمي او ادبي ژبې په حيثيت د درنولو د پښتون او افغان په حيثيت د يو قومي او نسلي تفخر ذکر کوي"۱۰

دا خبره څرګنده شوه چې عمراني فکر او شعور د پښتو د شاعرۍ موضوع او مضمون په څهٔ نه څهٔ رنګ او شکل کښې پاتې شوې ده- او د پښتو شاعرانو معاشرتي افکار او تصورات په شاعرۍ کښې وړاندې کړي دي- په دې حواله خپله د پير روښان او د هغهٔ د مکتب فکر د نورو شاعرانو کلامونو کښې هم د خپل مسلک د تعليماتو سره سره د عمراني شعور پلوشې څرګندې ښکاري- دغه فکر بيا وروستو خوشحال خان خټک د پښتو قوميت په صورت راڅرګنده کړو- سليم راز په دې حقله ليکي:

" ویسے تو ابتدا ہی سے پشتو ادب اور پشتون قوم میں ترقی پسند رجحانات و عناصر فطری طور پر موجود تھے لیکن مغل شہنشاہ اکبر اعظم کے دور میں پیر روشن (پیر روشان) نے شعوری اور منظم طریقے سے ایک تحریک کی صورت میں ان رجحانات و تصورات کو ترقی اور وسعت دی۔ ادب کو زندگی کا ترجمان و عکاس بنانے کی سعی کی۔ عوامی مسائل اور سیاسی نظریات و تصورات کو شعر و ادب کے موضوعات بنا کر ادب برائے زندگی کے نظریے کو متعارف کیا۔ جسے بعد میں خوشحال خان خٹک نے پشتون نیشنلزم کے تصور میں اجاگر کیا اور رحمان بابا نے انسان دوستی کے پیغام میں پھیلایا"۱۱

ترجمه: هسې خو د ابتدا نه پښتو ادب او پښتون قوم کښې ترقي پسند رجحانات او عناصر په فطري توګه موجود وو- ولې د مغل بادشاه اکبر اعظم په دور کښې پیر روښان په شعوري توګه اور منظمه طریقه د یو تحریک په صورت کښې دې رجحاناتو او تصوراتو ته وده او فراختیا ورکړه- ادب ئې د ژوند ترجمان او هنداره ګرځولو کوشش اوکړو- د عوامو مسئلې او سیاسي نظریات او تصورات ئې د شعر او ادب موضوعات جوړ کړل او داسې د ادب او ژوند نظریه ئې متعارفه کړې کومې چې بیا وروستو خوشحال خان خټک د پښتون قومیت په صورت کښې راڅرګندې کړې او رحمان بابا په کښې د انسان دوستۍ پیغام خور کړو"-

خو عمراني شعور او فکر چې کوم شرح و بسط سره خوشحال خان خټک (۱۶۱۳-۱۶۸۹ء) په خپلې شاعرۍکښې وړاندې کړو د هغې مثال اول په داسې شان او رنګ کښې نشي موندے- د خوشحال خان خټک زمانه کښې عمرانیاتو باندې په منظم ډول لا څۀ کار نه وۀ شوے- د اګست کامټ (AugusteComte)(۱۷۹۸ء-۱۸۵۷ء) د عمرانیاتو دور ډېر وروستے دے خو خوشحال خان خټک د پښتو ژبې او ادب هغه نابغه شخصیت دے چې د پښتو ژبې د نظم او نثر هیڅ اړخ ترې نۀ دے پاتې شوے- خوشحال خان د دیني علومو ښۀ ماهر وۀ او قرآن و حدیث کښې د معاشرت او معاشرې د پاره چې کوم اصول او ضوابط بیان کړلے شوې دي هغه د خوشحال خان خټک د نظر نه پټ نۀ وۀ- مونږ که د عمرانیاتو بابا ابن خلدون (۱۳۲۲ء-۱۴۰۶ء) په عمراني افکارو باندې نظر واچوؤ هغه خپل ټول عمراني اصول د قرآن و حدیث نه اخذ کړې دي- خوشحال خان خټک ته خپله د دې خبرې احساس او ادراک حاصل وۀ چې ما له خدائې پاک دا علم داو فن راکړې دے ځکه خو د دې علم په بلندۍ فخر کوي او په دې میدان کښې ځان فاتح ګڼي- د فن د موضوع په لحاظ تر

ټولو بر او برتر ګڼي- خو دغه يوازې شاعرانه تعلي نۀ ده يو حقيقت دے- خوشحال خان خټک وائي:

پـــه پښـــتو ژبـــه چــې مـــا علـــم بلنـــد کـــړ
د خبـــرو ملـــک مـــې فـــتح پـــه ســـمند کـــړ
مـــــدعي د تـــــورې شـــــپې اور اورکـــــےؤ
د ســـهيل غونـــدې مـــې ځـــان بانـــدې ځرګنـــد کـــړ
لعــــــل و دُر مـــــې ورتـــــه وپيــــــل د نظــــــم
د مشــــــکنو بنجــــــاره مـــــې مســــــتمند کــــــړ
پـــــه تــــازه تــــازه مضــــمون د پښـــــتو شـــــعر
پـــه معنٰـــی مـــې د شـــيراز او د خجنـــد کـــړ[۱۲]

لعل و دُر پئيل او د پښتو شعر په تازه تازه مضمون سره د شيراز سره برابرول واقعي چې د خوشحال خان کار دے- دغه تازه تازه مضمونونو کښې د خوشحال بابا نه ډېر کم کوز څۀ اړخ به پاتې شوے وي- د پښتو ، پښتونولۍ جمله اوصاف ننګ، پت، وفا ، غېرت، حيا ، مړتتوب، غرض هر اړخ ته ئې په خپل کلام کښې ځاے ورکړے دے- په طب، اقتصاد ، سياست، ښکار لنډه دا چې يوه نظريه او مفکوره ترې نۀ ده پاتې - اوس که مونږ د خوشحال خان خټک په ديوان کښې د عمراني فکر سره تړلي اشعار ليکل شروع کړو يقيناً چې ګرانه به شي خو دلته څو اشعار وړاندې کوؤ چې د عمراني شعور فکر ترې ځرګنديږي- دا خبره د يادولو وړ ده چې خوشحال خان خټک د خپلو ځامنو او د پښتنو د نورو قومونو او قبيلو پورې زبردست نقاد دے- چې چېرته ورته هم څۀ کمي او کوتاهي په نظر راځي په هغې باندې بې يرې او بې خوفه خبره کوي- خپله خپلې ژبې ته اور وائي چې د ټوپک ګوزارونه کوي- خو دا د ټوپک ګوزارونه د خپل اولس، د خپلې معاشرې، او د خپل قوم د اصلاح د پاره کوي:

پښـــــــــــتانۀ کـــــــــــه آدم زاد دي
پـــــه خويونـــــو کښــــې هنـــــاد دي
نــــــۀ حکمـــــت لــــــري نــــــه عقــــــل
خـــــوښ هــــــر ګــــــورۀ پـــــه فســـــاد دي
نــــه د پــــــلار پــــــه وئيــــــل کــــــار کــــــا
نــــــه پـــــــه نغتــــــه د اســـــــتاد دي
چــــې پـــــه ديـــــو کښــــې ئــــې يـــــو ښــــۀ وي
د هغــــــــــۀ د ســـــــــر جـــــــــلاد دي
يــــــو د بـــــــل پـــــــه کمــــــي ناســــــت دې
ځکـــــــه تــــــل پــــــه بـــــــلا يـــــــاد دي
د خــــــدا ے شــــــکر کــــــړه خوشـــــحاله
چــــــې بنــــــدي نــــــۀ دي آزاد دي[۱۳]

په دې شعرونو کښې د پښتون قوم عېبونه ښومره په آزاده او بې باکه جوړ بيانوي- ځکه چې حکمت او عقل نۀ لرې دي، د پلار او د استاد هم نۀ مني، ښۀ سړے او د سر سړے خرابوي، يو بل ته کوهے کني ځکه خو حال ئې داسې دے - اوس که سوچ اوکړو د خپل پښتون اولس ټولي خامۍ ، ټول عيبونه، ټولې کمۍ او کوتاهۍ په ګوته کوي- خوشحال د پښتون معاشرت او د پښتون قوم پوره پوره عکس په خپلې شاعرۍ کښې راڅرګند کړے دے- ډاکټر راج ولي شاه خټک د خوشحال بابا دور ته زرين دور وائي:

"د پښتو ادبي تحريکاتو کښې زرين دور د خوشحال خان د ادبي تحريک دور دے دا هغه دور دے چې په کښې نۀ يوائې د پښتو ادب تکميل اوموند بلکې د پښتون ثقافت کړو وړو د تصوير هره کرښه رابرڅيره شوه، او د تهذيب مکمل څېره په نظر راغله"-[۱۴]

د پښتون ثقافت او کلتور دغه مکمله څېره د پښتو په شعري ادب کښې د خوشحال خان خټک نه اول په داسې منظم او پشپړ ډول په نظر نۀ راځي ـ د پښتنې معاشرې ددې عکس ټول رنګونه خوشحال خان خټک ښۀ پوره پوره واضح کړي دي ـ خوشحال خان خټک د پښتون قوم او معاشرت ټول عیوب او محاسن وړاندې کړي دي ـ او په دې عمل کښې د رو رعایت نه کار نۀ اخستې ـ خپل ذات خپل اولاد خپله قبیله او ټول پښتون چې چېرته ورته کوم ښۀ او بد په نظر راتلل هغه ئې ښودلي دي ـ

دخوشحال خان خټک په دې زرین دور کښې رحمان بابا (۱۶۵۳ء-۱۷۱۱ء) د پښتو ژبې هغه شاعر دے چې د شهرت او مقبولیت په لحاظ تر ټولو بر دے، په خپله شاعرۍ کښې رحمان بابا د درویشۍ او فقیرۍ په ژبه خپل تصور او فکر بیان کړے دے- خو دا خبره هم د یادولو وړ ده چې دغه قلندر، درویش، فقیر او زیرک شاعر هم د خپلې معاشرې او د خپل اولس او د خپلې معاشرې د سمولو، ودانولو د پاره په ښکلي ښائسته انداز کښې اشعار وئیلي دي- که هر څو عام طور سره د رحمان بابا په حقله دا وئیلې شي چې صوفي دے او د صوفي سره د ګوښه نشینۍ او تنهائي تصور تړلے شي خو د رحمان بابا په حواله دا خبره په پوره ډول سمه نۀ ښکاري- اسماعیل ګوهر د رحمان بابا د ادبي عمرانیاتو په حواله وائي:

> " رحمان بابا ته عام طور سره ډېر په تکرار یو صوفي، مجذوب، ملنګ، او تنهاپسند شاعر وئیلے شي خو کتل دا پکار دي چې آیا رحمان بابا د خپلو افکارو په رڼا کښې هم یو صوفي ، مست ملنګ، مجذوب اور تنهاپسند دے، آیا هغه د معاشرتي حقیقتونو ادراک نۀ لرو؟ د خپل عهد په معاشرتي او سماجي مسائلو ئې نظر نه لرلو؟ د خپل ماحول نه ئې سترګې پټې کړي وې او د شاعرۍ په وسیله

ئې د سماج د اصلاح فرض نۀ وو ادا کړے؟ دا ټول هغه سوالونه دي چې جواب ئې د ادبي عمرانياتو په حواله د رحمان بابا په شاعرۍ کښې موندے شي[۱۵]

د دې ټولو پورته کړلي شوو سوالونو جوابونه د رحمان بابا شاعري خپله ورکوي- چې د رحمان بابا تصوف ، درويشۍ او ملنګۍ هغه ګوشه نشين کړے نۀ وو- د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د تصوف سره سره د خپل اولس، د خپل سماج ، د خپلې معاشرې او د خپل اولس او خلقو سره تړلې خبرې هم شته رحمان بابا چې څنګه د تصوف خبرې په ساده باده انداز کښې د خپلو خلقو او اولس زړه ته کوزې کړې دي- دغه رنګ ئې د خپلې معاشرې او خپل سماج نه هم سترګې نۀ دي پټې کړي- په قول د کاکا جي صنوبر حسين مومند چې " د وخت نبض ئې لاس کښې نيولے دے اودمړي ګوراود ژوندي ئې کور ښود لے دے"-[۱۶]

رحمان بابا د وخت د بادشاهانو مدحې او قصيدې نۀ دي ليکلې، بلکې په هغو ئې نيوکې او تنقيد کړے دے ، ګويا خپل د وخت په سياسياتو باندې ژور نظر لري او سترګې ئې ترې نۀ دي پټې کړې، د اورنګ زېب په حقله وائي:

اورنـــــګ زيــــب هــــم يــــو فقيــــر وۀ
چــــې ټــــوپۍ ئــــې وه پـــــه ســــر
و ټـــــوپۍ و تــــه ئــــې شـــــاه کـــــړه
چــــې قـــــادر شــــو پـــــر افســـــر
خـــــوئې هـــــــومره فقيـــــــري وه
چــــې څـــــۀ نـــــه وو ميســــــر
ګــــوره څـــــۀ چـــاري ئــــې اوکـــــړې
پـــــه عيـــــال د خپــــــل پــــــدر
وار پـــــه وار ئـــــې تــــر تيـــــغ تيــــر کـــــړه
د خـــــــرم تمـــــــام ټبــــــر

يـــــــو تېــــــــر د خــــــــرم ځــــــــۀ وۀ
ډېـــــــر عـــــــالم ئـــــــې کـــــــړۀ ډېـــــــر
حـــــق ئــــې پــــاتې پــــه ګـــــردن شـــــۀ
دســـــــــپاهي او د چـــــــا کـــــــر [۱۷]

اوس دا څوک څنګه وئيلے شي چې رحمان بابا ګوشه نشين دروېش وۀ، د خپل وخت د بادشاه، بلکې شهنشاه په کړو وړو او عمل باندې د څومره سخت رد عمل اظهار کوي- په خپل چاپيرچل ، په خپل وطن او په خپله خاوره او اولس باندې چې ظلم او زياتي اووينې نو صبر نشي:

پــــــه ســــــبب د ظالمــــــانو حاکمــــــانو
اور او ګـــــور او پېښـــــور درې واړه يـــــو دي [۱۸]

د رحمان بابا نه پس هم پښتو شعر و ادب کښې د عمراني شعور وړانګې وجود لري او که هر څو هم د دغه دور شاعران د خپل ذات احساسات او جذباتو ته د شعر جامه ورکوي - د هجر، فراق، وفا، بې وفائې، جور او جفا يا د محبوب د حسن، ښائست او جمال خبرې کوي خو اوس په دې معاشره کښې په دې چاپېرچل کښې ځکه خو په اشعارو کښې د عمراني پوهې او ادراک پلوشې هم وجود لري-

حسېن ملک پوري چې د مغل بادشاه شاه جهان (۱۵۹۲ء--۱۶۶۶ء) او اورنګ زيب (۱۶۵۶ء--۱۷۰۷ء) د زمانې شاعر دے- د دې دواړه بادشاهانو ذکر ئې په ديوان کښې موجود دے او د اورنګ زيب بادشاه ذکر ئې زيات کثرت سره کړے دے- د ضلع مانسهرې علاقه پکلۍ د يو کلي " ملک پور" اوسيدونکے وۀ-[۱۹]

حسېن هم دخوشحال بابااو رحمان بابا د زمانې شاعر دے- او په کلام کښې ئې د حسن و عشق ، هجر او فراق سره سره خپل عهد ، خپل ملک،

خپلې خاورې، د خپل خپل اولس او د خپلې معاشرې دود دستور، کرکروندې ذکر موجود دے۔ دغه ټولې حوالې د پښتو د غزل په عمراني روايت کښې د هغه تسلسل کړۍ ده چې پښتو غزل کښې د ډېر ابتدا نه راروان دے۔ همېش خليل د حسېن د کلام په حواله ليکي:

" د پښتني کلي وال د روزمره ژوند د ناستې پاستې او راشه درشه دود دستور عکاسي کوي۔ او هم دغه ژوند کښې د اولس په خله الفاظ، اصطلاحات او محاورې د خپل داستان په بيان کښې د حسېن شاعرۍ ته يو انفرادي حيثيت ورکړے دے۔ د حسين د ژوند په ساده باده چاپېرچل کښې هره ورځ، پېښيدونکو حالاتو او واقعاتو او انساني حيات د تکميل د پاره د کار روزګار او هلو ځلو حقيقتونو منظر کشي ترې ډېره څرګنده بريښي۔ لکه د ميني ليونتوب د تجربو په انتها کښې که هغه د هوښيارۍ مرتبې ته رسي نو په ځاے د لقمان يا افلاطون د مثال د خپل جغرافيائي ماحول د روايتي جرګې د سپين ږيرو د فرد عقل مندۍ ته اوليت ورکوي او دغه شان په يو غشي دوه ښکاره کوي"۔[۲۰]

لکه څنګه چې اول ذکر اوشو چې حسېن د مغل بادشاه شاه جهان او اورنګ زېب په زمانه ژوند تير کړې دے۔ په دې حواله د حسېن په کلام کښې بعض تاريخي پېښو او سياسي حالاتو ذکر موجود دے۔ هغه که د خېبر د مشهور جنګ ذکر وي يا د پښتنو او مغلو په حواله نورې څۀ حوالې خو حسېن ئې داسې بيانوي:

څــۀ شــو کــه دې ســترګو قــافلې د صــبر لــوټ کــړې
نــۀ شــي ســلامت تللــے مغــل پــه خيبــري کښــې [۲۱]

دا مـــــې زړۀ د يـــــار د غـــــم ســـــره لـــــوخيږي
کـــه جنګيـــــږي پـــه خپـــل بريـــد مغـــل پښـــتون[۲۲]

پـــــه کينـــــه د هغـــــو ســـــترګو راتـــــه ګـــــوري
چـــــې خـــــراج د پښـــــتانه د مغـــــل اخلـــــي[۲۳]

حسبن د خپل عهد د سياسي حالاتو او واقعاتو ذکر سره سره د خپلو معاشرتي اقدار او رواياتو چې د پښتو او پښتونولۍ د آئين او دستور حصه وي- او په پښتنه معاشره کښې اوسيدونکے هيڅ يو کس ترې هم انکار نشي کولے ولې چې هم دغه هغه معاشرتي روايات (Mores) يا مسلمه اصول (Norms) دي چې معاشره پرې قائمه وي- حسبن د خپلې معاشرې د دغه مسلمه اصولو (Norms) او معاشرتی رواياتو (Mores) ذکر کوي چې جرګې، او د غم ښادۍ د رواياتو ذکر کوي -

ســـر تـــور ســـر لاس پـــه نامـــه واښـــۀ پـــه خولـــۀ يـــم
بيرتـــــه نشـــــو هغه يـــــار راســـــتون زمـــــا[۲۴]

ليونتـــــوب دا هـــــومره ښـــــۀ راســـــره اوکـــــړه
چـــې د عشـــق پـــه جرګـــه کښېناســـتم دانـــا شـــوم[۲۵]

چـــــې مـــــې ورا د مينـــــې کيناســـــته پـــــه غـــــولي
اوس مـــــې ســـــتائې د غمونـــــو پـــــه تيپـــــو[۲۶]

چـــــې ئـــــې مينـــــه پيزوانـــــي پـــــه لاړ روان کـــــا
څـــــۀ ارزه د شـــــاه جهـــــان يـــــا د اورنـــــګ وي[۲۷]

نور داسې ګڼ مثالونه او د نمونې شعرونه د حسبن د ديوان نه تر لاس کېدے شي چې عمراني حوالې ،شعور او ادراک په کښې وجود لري - که هر څو هم

حسېن دغه ټولې عمراني حوالې د خپلې مينې د پاره د تشبيه او استعارې په طور استعمالوي خو بهرحال د عمراني فکر روايت په کښې موجود دے۔
اشرف خان هجري(۱۶۳۵ء۔۱۶۹۴ء)د خوشحال بابا دويم زوے دے۔[۲۸]
چې څوالس(۱۴) کاله ئې د مغلو په قېد کښې تېر کړي دي او ټوله شاعري ئې د زنداني ادب شاعري ده۔ د اشرف خان هجري شاعري په پښتو ادب کښې د خزينهِ شاعري يو دردناک باب دے.[۲۹] د اشرف خان هجري دغه دردناکه خزينهِ شاعري ددۀ د خپل ژوند کښې د داسې دردناکو عمراني حالاتو شاعري ده ،کوم چې اول په خوشحال خان خټک او بيا په دۀ باندې تېر شوے وۀ۔ د هجري په شاعرۍ کښې ځاے په ځاے داسې شعرونه په نظر راځي چې د هغې نه معلومېږي چې د پښتو په شعر کښې کوم عمراني روايت راروان وۀ هغه د دۀ په شاعرۍ کښې هم موجود دے۔ د مغلو د ظلم زور او جبر ،ذکر د اکبر زمينداوري نه شروع شوے او خوشحال بابا او رحمان بابا په شاعرۍ کښې هم ذکر شته۔ګويا دغه" مغل واکي" د يو اصطلاح صورت اختيار کړو۔

اشرف خان هجري د مغلو په بند بندي وۀ ، خپل د محبوب بېلتون ته د مغل د جبر سره تشبيه ورکوي۔

خـــوب خنـــدا قـــرار بـــه څـــۀ کـــوم بـــې تانـــه
چـــې بېلتـــون دې راپســـې لکـــه مغـــل شـــۀ ۔ ۳۰

اشرف خان هجري د مغلو په قېد کښې دے۔پلار ئې هم دغه مغلو قېد کړے ؤ۔د مغلو دښمني او د پښتنو دښمني بيا خاص د هجري د خاندان سره د مغلو دښمني ، هغه اسباب وو چې هجري ئې د مغلو په قېد و بند کښې مبتلا کړو۔ هجري مغلو ته په دې سبب ښۀ نۀ ګوري ،خو چې کله د مغلو دانائي او حکمت اووينې او د پښتنو جهالت او نا پوهي ته زير شي نو لا محاله په دې وئيلو مجبور شي چې :

دانــــائي حکمــــت نصـــــيب د ســـــرو مغلـــــو
پښتـــــانهٔ تـــــه جهـــــل خـــوږ لکـــــه شـــکرې [۳۱]

عبدالحميد بابا(۱۰۷۵/ ۱۰۸۰ء ـــ ۱۱۴۵ ء)د پښو شاعرۍ د نازک خيالو ډلې سرخيل ګڼلے شي ـ "د حميد بابا د خوښې مضمون او موضوع په شاعرۍ کښې حسن او عشق دے ،او هغه هم مجازي عشق ـ [۳۲]د عبدالحميد بابا په غزل کښې د حسن عشق او مينې محبت ،هجران او وصال خبرې ډېرې په زړهٔ پورې او ښکلي انداز کښې بيان شوې دي ـ د حميد بابا نازک خيالۍ او باريک بينۍ په سبب هغه "موشګاف" بللے شي ـ چې دغه انداز او اسلوب د سبک هندي" خاصه تصور کېږي ـ خو دحميد بابا د حسن و عشق او محبت د سوزوګداز سره سره خپل عمراني فکر او تصور هم ځاے په ځاے په خپل غزل کښې ځرګند کړے دے ـ پروفېسر محمد نواز طائر په دې حقله وائي ـ

"د حميد بابا د خپلې علاقې او اولسي ژوند سره براهِ راست تعلق وۀ ـ او د قام په ښهٔ بدو کښې عملاً شريک وۀ ـ دغه سبب وۀ چې کله د جلال خان، جمال خان او د ګل خان د قتل الميه پېښه شوه نو د دغې دور کوم شاعران چې ددې واقع نه براِ راست يا باالواسطه متاثر شول هغوئي خپل تاثرات د اولس د عبرت د پاره قلم بند کړل ـ عبدالحميد بابا هم په هغې شاعرانو کښې يو شاعر وۀ ... او د مغلو په لمسه په پښتنو باندې د زور ظلم کولو غندنه ئې کړې ده ـ او دا پېښه ئې د هغې عمل مکافات او نتيجه بللې ده ـ حميد بابا فطرتاً د مغلو دشمن وۀ او د قام قبيلې او پښتونولۍ د ننګ طرف دار او حامي ؤ ـ " [۳۳]

د جلال خان ،جمال خان ذکر چې کوم مسلسل غزل کښې حمید بابا کوي، د هغې نه د حمید بابا د عمراني او معاشرتي شعو ر څرګنده پته لګي ـ چې کوم سردارخپله بدو ته لېوال شي تباهي او بربادي د هغهٔ مقدر اوګرځي :

عاقبـــت هغـــه ســـردار شـــي مـــردار پـــاتې
چـــې ئـــې نـــس و خپلـــو بـــدو تـــه لیـــوال کـــه ۳۴

د چا چې خپلې متې نۀ وي ، خپل خلق ، خپل قام او قبیله او قرابت دار ورسره نۀ وي ولاړ هغه په یواځې سر مړانه نشي کولے ـ د جنګ او ننګ د پاره د قام او قبیلې (social solidity) ضروري ده ـ د جمال خان او جلال خان په دغه واقعه باندې په دې حواله وائي:

پـــه پـــردو مړانـــه نـــۀ کېـــږي بـــې خپلـــو
لـــه لحـــده دا آواز جمـــال جـــلال کـــه ۳۵

په کور کلي او قام قبیله کښې چې جاهل ، بې عقله او ناکس پیدا شي ، هغه د ټول قوم، قبیله او اولس د پاره د شرم او عار سبب جوړ شي- د یوې معاشرې د ورانۍ سبب جوړ شي- علم، پوهه او شعور د یوې معاشرې د پاره د ترقۍ ، ودانۍ او خوشحالۍ سبب وي- حمید بابا دا خبره په ګوته کوي:

پـــه غوجـــل کښـــې بـــاري خـــر او کچـــر ښـــۀ دي
نـــۀ پـــه خونـــه کښـــې جاهـــل اوبـــې طلـــب
چـــې پیـــدا شـــي یـــو نـــاکس پـــه قبیلـــه کښـــې
وړانـــدې وروســـتو حبطـــه کانـــدې نســـب ۳۶

د پښتنو په معاشره کښې د مشر برخه ، مشره برخه وي- دا د معاشرتي تړون اصول او ضابطه ده- د پلار مشر ځوے وي که د قوم قبیلې مشر وي د مشرۍ خپله برخه لري چې د تقسیم او وېش په وخت د مشرۍ په سبب هغهٔ ته زیاته برخه ورکولے شي- د برخې دغه زیاتوالے خپله د هغهٔ خاندان، قوم قبیلې

د پاره وي چې د مشرۍ د کور نه وخت په وخت په غم یا نورو معاشرتي معاملو او کارونو کښې ترې استفاده کولے شي- حمید بابا دغه سماجي او معاشرتي اصول بیانوي:

لــــري مشــــر مشـــــره برخـــــه کشــــر کشـــــره
برابـــر نـــۀ د ے چـــرګ بانـــګ لـــه مـــلا بانګــــه[۳۷]

د حمید بابا نه پس تر شلمې صدۍ چې نور کوم کوم شاعران تېر شوي دي د هغوي په غزل کښې د معاشرتي او سماجي شعور رنګ موجود ے- لکه کاظم خان شیدا ، محمدي صاحبزاده ، علي خان، کامګار خټک، احمد شاه بابا ، پیر محمد کاکړ، حافظ الپورۍ او نور ډېر ،خو په شاعرۍ کښې چې اکثر د غزل په صورت کښې موجوده د عمراني شعور فهم او ادراک وجود لري-
د دې بحث مطلب دا د ے چې د شلمې صدۍ نه اول د پښتو په غزل کښې د عمراني شعور د روایت لنډ شان جاج واخستے شي- زمونږ د پښتو شاعرۍکښې عمراني فکر او شعور د ابتدا نه راروان د ے او چې کله خوشحال خان خټک ته رسي نو د عمراني شعور روایت بیا ښۀ مضبوط بنیاد باندې ولاړ لید ے شي او د خوشحال بابا نه پس بیا نورو ټولو شاعرانو د خپل ماحول، خپلې خاورې، خپل اولس، خپل قوم قبیلې او معاشرې نه سترګې نۀ دي پټې کړي-

د دې بحث نه دا خبره په مخه راځي چې پښتو شاعرۍ کښې عمراني افکار د پښتو د اولسي شاعرۍ د ټولو نه زوړ صنف ټپه کښې او بیا ورسره په ځنو نورو اولسي اصنافو کښې وجود لري- د دې نه دا معلومېږي چې د عمراني فکر ارتقاء د پښتو د شاعرۍ زوړ صفت د ے- د اولسي شاعرۍ نه پس مونږ د پښتو د ځنو مشهورو شاعرانو په حواله د عمراني افکارو د ارتقاء جاج اختصار سره واخستو لکه ارزاني خویشکي ، بیا د خوشحال خټک د عمراني افکارو ذکر مو اوکړو او وروستو د رحمان باباو د حسېن ملک پوري،اشرف خان هجري،عبدالحمید بابا د عمراني فکر څېړنه هم اوکړه - دا ټول د پښتو

کلاسیکي دور شاعران دي- په دې کلاسیکي دور کښې عمراني افکارو ارتقاء موندلې ده او د ذکر شوؤ شاعرانو نه علاوه د دې کلاسیکي دور د نورو شاعرانو په شاعرۍ کښې هم عمراني فکر وجود لري-

## حوالې


۱ ــ ذوالفقار، غلام حسین، ڈاکٹر، اردو شاعری کا سیاسی اور سماجی پس منظر، لاہور، سنگ میل پبلیکیشنز، ۲۰۰۰ء، ص، ۱۰

۲ - ایضاً، ص ۷

۳ - شاهین ،سلمٰی ،روهي سندرې ،پېښور ،پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي ،۱۹۸۴، ص ۲۹

٤- ایضاً ، ص ۱۰

٥- ایضاً ،ص ٤٠٥

٦ - ایضاً ،ص ۳۹۱

۷ - داؤد ،داور خان ، پښتو ټپه، پېښور ، یونیورستي بـک ایجنسي ، س ن ، مخ ۷۰

۸ - حبیبي ،عبدالحئ ، پوهاند ، د پښتو د ادبیاتو تاریخ (لومړی او دوېم ټوک)، پېښور ، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل/۲۰۰۵ء، ص ۵۵۲، ۵۵۳

۹- حبیبي، عبدالحئ ،پښتانۀ شعراء (اوله حصه) پېښور ، یونیورستي بک ایجنسي، س ن، ص ۱۳

۱۰- مهجور ،پرویز ، خوېشکي، ډاکټر ،(مرتب)، د ارزاني خوېشکي کلیات، پېښور ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي، ۲۰۰۵ء، ص ۱۷۳

۱۱ــ راز، سلیم،یقین،انجمن ترقی پسند مصنفین، پاکستان ، ۲۰۱۲ء، ص ۹۸
۱۲- رسا ،سېد رسول ،(مرتب) ، ارمغان خوشحال،پېښور ،یونیورسټي بک اېجنسي، ۲۰۰ء، ص ۵ ، ٦
۱۳- ایضاً ، ص ۶۶۵
۱٤- خټک ،راج ولي شاه ، ډاکټر، د پښتو ادبي تحریکونه ، پېښور، پښتو اکېډیمي، پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۹ء، ص ۱۵۴۔
۱٥- ګوهر ،اسماعیل،"رحمان بابا او ادبي عمرانیات" مضمون مشموله، "جرس"، درې میاشتینی ، کراچي، ګڼه نمبر ۱۰، کال دویم، جولائي/ستمبر ۱۹۹۴ء، ص ۵۸ -
۱٦- مومند، کاکاجي،صنوبر حسېن "رحمان بابا د خپل وخت ترقي پسند وۀ" ،مضمون مشموله،" تاتره "درې میاشتینی،پېښور، پښتو ادبي بورډ ، جلد اووم،ګڼه: دوېمه،اپریل/ جون ۲۰۰۳ء، ص ۶۔
۱۷ - مومند ،کامل ،دوست محمد خان ،او قلندر مومند (ترتیب او سمونه)د رحمان بابا کلیات، پېښور، د چاپ ځاے، ۱۹۸۴ءص۸۳، ۸۴
۱۸ ــ ایضاً ،ص۲۲۳
۱۹- خلیل ،همېش ،(مرتب)دیوان حسېن،دیباچه،پېښور ،پبلک ارټ پرېس، ۱۹۵۸ء،ص ق
۲۰۔ خلیل،همېش،ساهو ادب،پېښور ،اداره علم وفن پاکستان،۲۰۰۳ء، ص ٦۹
۲۱ - خلیل ،همېش (مرتب) دیوان حسېن ، ص ۲۰۶
۲۲۔ ایضاً ،ص۳۵۴
۲۳ - ایضاً ،ص۴۳۰
۲٤ - ایضاً ،ص ۲۹
۲٥ - ایضاً ،ص ۳۳۵
۲٦ - ایضاً ،ص۳۸۰

۲۷ - ایضاً ،ص۴۵۶
**۲۸ .** خلیل،همېش،(مرتب)دیوانِ اشرف خان هجري،مقدمه،پېښور،شاهین برقي پرېس،**۱۹۵۸**ءص ج
۲۹- ایضاً ،ص ق
۳۰ - ایضاً ،ص. **۱۳۵**
۳۱ - ایضاً ،ص**۲۴۵**
۳۲ - جیلاني ،سید انورالحق ،ډاکټر(مرتب) ،دُر او مرجان (عبدالحمیدبابا دیوان) ،مقدمه پېښور ، یونیورسیټي بک اېجنسي ، س،ن ، ص ج
۳۳ - طائر ،محمد نواز ، پروفېسر، روهي ادب، پېښور ، پېښور اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، ۱۹۸۶، ص ۱٤۳، ۳٤٤
۳٤ - جیلاني ، سید انورالحق ،ډاکټر ،ص **۹۵**
**۳۵ .** ایضاً،ص**۹۵**
۳٦- ایضاً، ص ۱۲
۳۷ - ایضاً ،ص ۹۸